لحاج غرزي خواخوږی
نیټه: ۱۳۸۹\۵\۲۷مطابق ۲۰۱۰\۸\۱۸م

# د خپلواکي د ۹۱ کليزي په وياړ
## د خواخوږی د ادبي او کلتوري ټولني پيغام



آزاد پيـــدا يـــو پــــه هيڅ وخت کې اسـارت نه منو
ســـر او مـــال دواړه جـــارۇ ژوند د ذلـــــت نه منو
مـــوږ خپـلي ويني تـــويـــوۇ د ننـګ ناموس په لارکي
پرېت مو مرګ هر آن دي خوښ، خو پست همت نه منو
استاد "خواخوږی"

د هر څه مخکي د انګريزانو څخه د هېواد د خپلواکي د ترلاسه کولو ۹۱ کليزه د خواخوږی ادبي او کلتوري ټولني مشرتابه او ټول غړو لخوا ګرانو هېوادوالو ته د وطن دننه او د نړي په ګوټ ګوټ کې مبارکي وايو.
د اتلسمي پيړي په پاي او نولسمي پيړي په پيل کې انګريزانو د سوند او انرژي موادو ترلاسه کولو په پلمه د هند نيمي وچي سيمه تر خپلي ولکي لاندي کړي او بيا يې پر افغانستان هم يرغل وکړ چي افغان بيوزلي ولس د خپلي اسلامي جذبي او ملي احساساتو له مخي د دريو لويو جګړو سره مخامخ او د نړي لوي ښکيلاکګرو ته چي په توپ او د هغه وخت په مدرن وسلو سمبال وه ماته ورکړل او د لوي برطانيي ستره امپراطوري يې د نړيدو سره مخامخ کړه.
د برطانيي د (۱۸۷۹) کال د باندنيو چارو وزير لارد ليټن هغه خبره چي په هند کې و خپل وايسراي ته ليکي وه چي: "له دي وروسته افغانستان د يوه هېواد په توګه موجوديت نسي لرلي...د انګليسي قواوو لخوا پر افغانستان پوځي يرغل بايد دومره دوام وکړي چي افغان ملت د انګليس اطاعت سره عادت پيدا کړي او د انګريزي امپراتوري په زور پوه سي."، په اوبو کې لاهوسوه.
لارد ليټن په دي نه پوهيدي چي يو مظلوم ملت په ورږي نس، تش لاسونو او لڅو پښو د لوړ همت او غيرت لرونکي او په اسلامي او ملي غرور سمبال هيڅ کله د مرئيتوب ژوند ته غاړه نده ايښي او نه ئي ايږدي.
په (۱۹۱۹) کال کې د هېواد ستر اتل اعلحضرت غازي امان الله خان د افغانستان خپلواکي رسماً اعلان او بيا د انګريزانو لخوا په رسميت وپيژندل سوه خو ښکيلاکګر د هغه ورځي څخه لا تر اوسته په آرامه ندي ناست، کله د روس ښکيلاک او کله د نړيوال تروريزم او ګاونډيانو لخوا په مختلفو نومونو او رنګونو د آزاد افغانانو په پاکي خاوري تيري سوي چي په اسلام او وطن مينو غازي مجاهدينو لخوا ورته خوله ماتونکي ځوابونه ورکړل سوي دي او په دغه وروستي لسيزه کې د تروريزم او ترهګرو سره د مبارزي لپاره د نيمي نړي هېوادونو پوځيان بيا افغانستان ته راغلي، د دي پر ځاي چي د تروريستانو اصلي پټنځايونو او ځالو ته ولاړ سي زموږ د بي دفاع او غم ځپلي افغانانو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

په وژلو بوخت دي او د ځینو بهرنیو سیاست والو لا تمه دا ده چي زمونږ ګران هېواد افغانستان وویشي "تجزیه کړي" خو ارواښاد استاد بینوا څه ښه ویلي دي:

څـو چي پــاتي یـو افغــان وي – تــل بــه دا افغانستان وي
تل د وي افغان ملت – تل دي وي افغان ملت ملي وحدت
هو!
ښکیلاکګر چي په هري پلمي او هیلي دغي پاکي خاوري ته راغلي دي باید پوه سي چي د اتلسمي پیړي د لاردلیتن او شلمي پیړي د بریژنیف غوندي د دوي خوبونه به هم لاهو سي. افغانان د هري پیښي په مخ کي یو دي او په ملي یووالي سره د بهرنیانو په مقابله کي ګډون کوي.
په وطن مینو افغانانو!
ښکیلاکګرو تل مدام د افغان ملت تر منځ د بي اتفاقي او تاوتریخوالي تخم کرلي دي خو ویښ افغانان باید پوه سي چي زمونږ شتون او بقا په ملي یووالي کي ده.
که تــه واي چي زه یم، زه وایم چي زه یم - نه به ته بې نه به زه یم
که ته واي چي ته بې، زه وایم چي ته بې – هم به زه یم هم به ته بې

ګرانو هېوادوالو!
د تاریخ د دغه نازکو شیبو په دَرکولو سره باید خپل ملي یووالي او هم رِغي ټینګه کړو، د خپلو نیکونو په شان خپله پاکه خاوره د ښکیلا ګګرو څخه وساتو او مظلوم ولس د بي ځایه وژنو څخه وژغورو.
د ملي ولسواکي، خپلواکي او ملي یووالي د ساتني په هیله.

تل دي وي خپلواکي اوملي یووالي

الحاج غرزي خواخوږی
د ټولني مشر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ